مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۱۲/۱۹

# سیوری

مخامخ یو څه، تر شا نور ښکاری
اوچت بیرغ، له هری لور ښکاری

فقیر چی خیر غواړی کوڅه په کوڅه
هر پردئ کور ورته خپل کور ښکاری

د تور او سپین تر منځ توپیر نشته
د سپین ګلاب سیوری هم تور ښکاری

که لیونئ په زنځیر هم و تړی
لا یی هم متو کی لوی زور ښکاری

دی سوزیدلی کور ته سپک مه ګوره
تورو ایرو کی یی لا اور ښکاری

پلار که بچی باندی احسان بار کړی
بچی ته بد ښکاری پیغور ښکاری

چی د مغرورو چاپیریال کی لوی شی
د اورسپرغی هم ورته سکور ښکاری

داسی ړند ړند چی ورته ګوری اشنا
په کلیوال دی څه شی پور ښکاری؟

دسمبر/۱۴/۲۰۲۰
کانادا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څېر و لولئ